# د ژبي د اوښتون پديده : دموجودو علمی موادو تنقيدي څېړنه

## The Language Shift Phenomenon: A Critical Analysis of the Existing Literature

Issn 2304-1463

**Sharif Khan** [1]

sharifkhan204@gmail.com

**Dr. Barakat Shah Kakar** [2]

drbarkat.uob@gmail.com

**Dr. Naseebullah Seemab** [3]

naseeb902@gmail.com

## Abstract:

This research article critically evaluates the multi-dimensional perspectives of language shift (LS), a key topic of socio-linguistics. The literature review of this vital topic revolves around the two significantly established notions of (i) deserting primary speech domains of a mother or first language to the dominant second language, and (ii) disruption in the intergenerational language transmission process. However, there are scores of political, economic, social and cultural factors which causes this socio-linguistic phenomenon in bi-or multilingual societies. While, renowned American linguist Joshua Fishman is considered to have contributed more in this academic field. As for as, the methodology of this paper is concerned, a critical analysis approach was applied to the evaluation of language shift phenomenon.

**Keywords**: Socio-linguistics, Language Shift, Critical Analysis

## تعارف :(Introduction)

د ژبي اوښتون يوه جهاني ژبني پېښه ده، چي د ژبو تر ميان د رابطو په صورت کښي پيدا کيږي. په دې ژبني حالت کښي د يوې ژبي ويونکي خپله اولنۍ / مورنۍ (L1) ژبه وئيل په بشپړه

[1] - Sharif Khan: Lecturer and a Ph.D scholar at the Dept. of Pashto, University of Balochistan Quetta.
[2] - Dr. Barakat Shah Kakar: Supervisor, and Chairman of the Dept. of Pashto, University of Balochistan Quetta.
[3] - Dr. Naseebullah Seemab: Co-supervisor, and Professor of the Dept. of Pashto, University of Balochistan Quetta.

توګه باندي پرېږدي، او د خبرو اترو (ابلاغ) دپاره یوه بله بااثره / واکمنه ژبه خپله کړي، او له دې سره د خپل ورځني ژوند په چارو کښي دغه دويمه واکمنه ژبه (L2) د ټولني په ټولو حلقو (domains)کښي د خبرو اترو یوازینۍ وسیله وګرځوي. و دې ژبني حالت ته د ټولنیز- ژبپوهني په اصطلاحاتو کښي د ژبي اوښتون او ژبي مرګ وئیل کیږي. ځیني ټولنیز ژبپوهان، لکه ډيويډ کرسټل (David Crystal)، ډينل نېټل (Daniel Nettle) او سوزاني روماني (Suzanne Romaini)، د ژبي اوښتون او مرګ و ژبني حالتونو ته د ژبي د ژوند او مرګ سره تشبیح ورکوي. دوی داسي استدلال وړاندي کوي، چي ژبه پخپل سر باندي نه پايي، بلکې د ژبي ژوند او مرګ د انسانانو له استعمال سره تړلئ وي. که په ټولنه کښي یوه ژبه وئیله کیږي، نودا ژبه ژوندۍ ژبه ده، ځکه چي خلګ يې وايي. او کله چي د یوې ټولني یا قام وګړي و خپله اولنۍ / مورنۍ ژبه وئیلو ته یو مخ شا کړي، نو دغه ژبه مړه وبلل شي. ځکه چي دا ژبه د وئیلو دپاره نور څوک (ويناوال) نه لري.

## د ژبي اوښتون تعریف (Definition of LS)

تر کومه ځايه چي د ژبي د اوښتون د تعریف او توضیح خبره ده، مختلفو ټولنیز ژبپوهانو د دې کلیدي موضوع تعریفونه په بیلا بیلو پیرایو کښي کړي دي. مګر په دې ټولو تعریفونو کښي چي کوم نظراشتراک لري، هغه دا دی. یعني کله چي یوه ژبه د بلي بااثره / واکمني ژبي په وړاندي خپل د وینا ځایونه (domains) له لاسه ورکړي، نو د ژبي اوښتون واقع کیږي. له دې سره سره یوه بله مهمه نقطه، چي د ژبي اوښتون په مباحثو کښي بنیادي ارزښت لري، هغه د یوې ژبي له یوه نسل څخه و بل نسل ته په روانه توګه باندي د انتقال یا ترسیل (intergenerational language transmission) په عمل کښي د مختلفو علتونو له سوبه خلل(disruption) پیدا کیدل دي، چي د ژبي اوښتون او د ژبي د مرګ بنیادي لامل ګڼل کیږي. سوان او ملګري (Swann and et all) د ټولنیز ژبپوهني د دې مهم ژبني حالت په اړه داسي نظر وړاندي کوي، هغوی لیکي:

Language shift: Term coined by Joshua Fishman (1964) for the inability of a speech community to maintain its language in the face of competition from a regionally and socially more powerful or numerically stronger language. Sociolinguistics have studies the causes of shift (noting the impact of political domination and economic change) and the course of shift (frequently via domains of use), noting that the home and religion are often the last bastions of survival for beleaguered languages. (Joan Swann et al, 2004, pp 174-175)

(ژباړه) "دا اصطلاح جوشه فیشمېن (۱۹۶۴) د یوې ژبې ویونکي ټولني (speech community) د هغه ناتواني / نالایقي (inability) دپاره اختراع کړه، چي په سیمیزه او ټولنیزه توګه باندي د زوروري یا د شمیر له لحاظه قوي ژبې سره په سیالۍ کښې خپله ژبه خوندي وساتي. ټولنیزژبپوهانو د اوښتون مختلف علتونه مطالعه کړي دي، چي په دې کښې سیاسي حاکمیت (political domination)او معاشي بدلون، او د اوښتون عمل زیاتره د استعمال د حلقو د لاري شوئ دی، چي په دې کښې کور او مذهب د محاصره شوو ژبو د بقا اخري سنګرونه (bastions) دي."

ټولنیز ژبپوهان فکر لري، چي د ژبې اوښتون او مرګ تر شاه یو شمېر عوامل کلیدي کردار ادا کوي، په دې کښې د قدرتي پېښو سره سره ټولنیز علتونه، لکه، وچکالي او ناروغۍ، جنګونه، ټولوژنه، د قومي یووالي په نوم د ژبې پلانونه، او نور سیاسي، معاشي او کلتوري علتونه شامل دي. دغه عوامل په دوو ژبو ویونکو (bilingual) یا په څو ژبو ویونکو ټولنو (multilingual) کښې د خلګو د ژبې خوښه او د انتخاب عمل (language choice) هغه وخت په ورو ورو تر خپل اغیز لاندي راوړي، کله چي په ټولنه کښې د ژبو په مینځ کښې تعلق پر غیر مساوي اختیار او قوت باندي ویشل شوئ وي. دغه د غیرمساوي طاقت ستونزه په دوه یا ګڼو ژبو ویونکو ټولنو کښې د ژبې د اوښتون، خطر او مرګ غوندي حالتونو سبب ګرځي. تر کومه ځایه چي د ژبې د اوښتون د ژبني حالت خبره ده، دا ژبني حالت په دوو یا ګڼو ژبو ویونکو ټولنو کښې په ارتقایي ډول تر سره کیږي. اني پاول (Anne Pauwels) د ژبې اوښتون داسي بیانوي:

In sociolinguistic terms, LS (language shift) involves the gradual replacement of one's main language or languages, often labelled L1, by another language, usually referred to as L2, in all spheres of usage. (Pauwels, 2016, p 18)

(ژباړه) :"د ټولنيز ژبپوهني په اصطلاحاتو کښي، د ژبي اوښتون د يوه چا د اولنۍ ژبي يا ژبو د استعمال په ټولو ځايونو / حلقو کښي په يوه بله دويمه ژبه باندي په ارتقايي لحاظ بدلول شامل دي."

د اني پاول دغه توضيح دوو بنيادي نقطو لري، چي د ژبي د اوښتون ټوله قضيه په خپله لمن کښي رانغاړي. يعني د ژبي د اوښتون پروسه په ورو ورو او تدريجي توګه باندي په يوه ټولنه يا قام کښي تر سره کيږي. دا په دې چي کله دوې يا د ډيرو ژبو تر ميان تعلق پر غير متوازي طاقت باندي اډانه ولري، نو په داسي حالت کښي د ويناوالو د ژبي د انتخاب خوښه (language choice) هرو مرو تر اثر لاندي راځي، او د هغو ژبو ويونکي، چي د طاقت له ځايونو او ادارو سره تړاو نه لري، تل د هغو ژبو په حق کښي دستبرداره کيږي، چي په سياسي او معاشي توګه باندي له طاقت سره تړلې وي. او دويمه نقطه يې د ژبي د استعمال له ځايونو / حلقو سره کار لري. کله چي يوه ژبه له پورتني حالت سره مخامخ شي، نو دغه اغيزمنه ژبه په ورو ورو د ژبي د استعمال حلقې / ځايونه د با اثره / واکمني ژبي په حق کښي پريږدي، او په تدريجي توګه باندي د خپل استعمال حلقې له لاسه ورکوي، چي نتيجه يې د ژبي پر اوښتون يا مرګ باندي تماميږي. ژبپوهان په دې اړه د نظر اختلاف لري، چي د ژبي اوښتون په څومره وخت کښي پای ته رسيږي؟ ځيني پوهان لکه، ګرينوبل او وېلي (Grenoble & Whaley) وايي، چي د ژبي اوښتون په يوه چټکه قضيه کښي داسي هم کېدلای شي، چي يوه ژبه په يوه نسل کښي دننه دننه له ورکيدوه سره مخامخ شي. ګرينوبل او ويلي د ژبي د اوښتون دغه خطرناک حالت داسي بيانوي:

Once the children stop learning a language, it is a precarious state. In cases of rapid or accelerated language shift, disrupted transmission to children can move a vital language to near extinction in the course of a single generation. (Grenoble & Whaley, 2006, p 13)

ژباړه: " یووار چې ماشومان د ژبې زده کول بند کړي، دا یو خطرناک حالت دی. د ژبې د اوښتون په ګړندي یا چټکو قضیو کښې و ماشومانو ته د ژبې نیمګړی انتقال یوه مهمه ژبه هم په یوه نسل کښې دننه له ورکیدو سره مخامخ کولای شي. "

د ژبې اوښتون او دې ته ورته ژبني حالتونه، لکه، د ژبې خطر، مرګ، وژنه یا ورکیده د دوه ژبو (دوه ژبیتوب) یا څو ژبو ویونکي حالت (ګڼ ژبیتوب) په نتیجه کښې پیدا کیږي. خو دغه دوه ژبیتوب / ګڼ ژبیتوب تل د سیاسي او معاشي عواملو په غیرمتوازي توازن کښې اخښل شوئ وي، چې یوه ژبه پکښې له وخت سره د بلې ژبې د وینا ځایونه / حلقې ونیسي. په دې اساس باندې د ژبې اوښتون ته د دوه ژبیتوب (دوه ژبې ویونکی حالت) عبوري پړاو (transitional stage of bilingualism) هم وئیل شوئ دی، چې په دې کښې یوه ژبه د بلې ژبې ځای نیسي.

کېمپبېل، ډینیسن او نور د ژبې اوښتون د دوه ژبیتوب عبوري دوره ګڼي. مګر زیاتره ژبپوهان په دې نظر دي، چې د ژبې اوښتون په بشپړه توګه باندې په درې یا څلور نسله کښې پای ته رسیږي. په دې کښې ځیني پوهان، لکه، برینزینګر، ایډورډ، فېس، جېسفرټ او کرون هم د دې نظر پلوي کوي. دوی وایي:

It has often been stated that it takes three generations for language shift to be completed (Brenzinger 1997: 282; Edwards 1984: 278; Fase, Jaspaert and Kroon 1992a: 6) … Language shift is said to presuppose the existence of a transitional stage of bilingualism, involving the receding language and the replacing one. (Campbell 1994: 1961; Denison 1977: 16; Mesthrie 1994: 1990; Mougeon and Beniak 1989: 293; Sasse 1992a: 12)). (Tasunoda, 2005, p 73)

(ژباړه): "دا زیاتره وئیل شوي دي، چې د یوې ژبې اوښتون درې نسله اخلي چې بشپړ شي.... "د ژبې اوښتون د دوه ژبیتوب د عبوري دورې د موجودګي مفروضه په ګوته کوي، چې یوه ژبه پکښې راکمیږي، او بله ژبه د هغې پر ځای باندې پراخیږي یا راځي. "

د ټولنیز ژبپوهانو په مینځ کښې د ژبې د اوښتون تر شاه د بنیادي عواملو په اړه هم د نظر اختلاف لیدل کیږي. مګر د دې ژبني حالت په هکله د نظرونو اختلاف دا ښکاره کوي، چې

پر نړیواله کچه باندي د ژبو تر میان د اوښتون پدیده په هر ځای کښي خپل خپل ښېل لاملونه لري. ځیني پوهان داسي نظر وړاندي کوي، چي په ښاري خلګو کښي ترکلیوالو خلګو زیاته د ژبي د اوښتون ماده یا رجحان لیدل کیږي. په دې کښي د جوشه فیشمېن د حلقې تیوري (the domain theory)، او د مېککانویل تیوریاني (1-the functional choice theory of language shift, 2-the linguistic complexity theory of language shift) شاملې دي.

## تنقیدي تجزیه (Critical Analysis)

د تحقیقي میتوډولوجي په توګه د فرینکفورټ مکتب (Frankfurt School) سره تړلې د تنقیدي تجزیې کړنلاره (approach) انتخاب شوې ده. او په دې کښي د ټولنیز-ژبپوهني د یوه مهم موضوع، د ژبي اوښتون، په هکله پر نړیواله کچه باندي د لیکل شوي ادبیاتو تنقیدي جائزه اخیستل شوې ده. او د ژبي د اوښتون هغه بعدونه (dimensions) راسپړل شوي دي، کوم چي دا واقعیت په ښه توګه باندي توضیح کوي، چي دغه ژبني حالت څنګه او څله واقع کیږي.

**د ژبی اوښتون د یوې تحقیقي ساحې په توګه: (Language Shift as a field of enquiry)**

دا یو منل شوئ حقیقت دی، چي پر نړیواله سطحه باندي د ژبو ورکېدل او اوښتون په هر وخت کښي پېش شوئ دی، پېښېږي، او بیا هم پېښېدلائ شي. د دې ژبني پدیدې د اساسیت له سوبه پر دې موضوع باندي مختلفو پوهانو په بېلا بېلو وختونو کښي تحقیقي څېړني کړې دي. ځکه د یادې موضوع د بنسټګرو او مخکښانو په اړه یوحتمي نظر وړاندي کول له ستونزوخالي خبره نه ده. دا په دې چي د ژبپوهني دغه موضوع له ډېرو نورو علمي څانګو سره، لکه د دوو یا ډېرو ژبو په خپل منځ کښې د رابطې حالت (language contact)، دوې یا ګڼې ژبي ویونکی حالت (bi-and multilingualism) ، د ژبي مرګ (language death) او د ژبې بدلون (language change) سره په ټینګه اخښلئ دی. که څه هم دا یوه زړه موضوع ده، مګر پر دې سکالو باندي تحقیقي څېړني د وشلمي پېړۍ په منځني پېرکښي پیل شوې دي. انني پاؤلزد خپلې تحقیقي

لیکنې په رڼا کښي داسي پایلي ته رسیږي، چي د یوې علمي ساحې په توګه د ژبي اوښتون او پایښت څېړني په وشلمه پېړۍ کښي پیل شوې دي، پاول په دې هکله لیکي:

There is a considerable degree of consensus that LM and LS emerged as a field of enquiry in the mid-twentieth century and that it was initially linked to contexts of language contact arising from migration, especially from the 'old' world, Europe, to the 'new' world, North America and, later predominantly Australia and New Zealand. A key text in its establishment is undoubtedly the paper entitled 'Language maintenance and language shift as a field of enquiry. (Pauwels, 2016, p 9)

(ژباړه) "پردې خبره باندي تر ډېره حده پوري اتفاق لیدل کیږي ، چي د ژبي اوښتون او پایښت (پالنه) د څېړني د یوې عملي تحقیقي ساحې (field of enquiry) په توګه د وشلمي پېړۍ په نیمایي کښي رامنځته شوه. په لومړي سرکښي دا پدیده د ژبني رابطې سره وتړل شوه، او په خاصه توګه د زړې نړۍ (اروپا) څخه و نوې نړۍ (شمالي امریکې) او وروسته بیا استرېلیيا او نیوزیلینډ ته له مهاجرت څخه پیدا شوه. د دې په تاسیسولو کښي هغه مهمه لیکنه (مقاله) لوی کردار لري، چي جوشه فیشمېن (Joshua Fishman) ( په ۱۹۶۴ کښي ) " د ژبي اوښتون او پایښت د یوې تحقیقي ساحې" تر عنوان لاندي ولیکله."

په دغه مقاله کښي فیشمېن د تعریف کولو سره سره د دې د پرمختګ دپاره وړاندیزونه هم کړي دي، چي وروسته یې د ډېرو محققینو توجه و دې لوري ته راوجلبوله. پاولزد فیشمېن له دې لیکنې څخه یو پیراګراف راوړي دی، چي په هغه کښي فیشمېن لیکي:

"The study of language maintenance and language shift is concerned with the relationship between change (or stability) in habitual language use, on the one hand, and ongoing psychological, social or cultural processes, on the other hand, when populations differing in language use are in contact with each other. That languages (or language variants) sometimes replace each other, among some speakers, particularly in certain types or domains of language behaviour, under some conditions of intergroup contact, has long aroused curiosity and comment. However, it is only to quite recent years that this topic has been recognized as a

field of systematic inquiry among professional students of language behaviour (Fishman, 1964: 35).” (Pauwels, 2016, p 9)

ژباړه: "د ژبې پاينښت (پالنه) او اوښتون څېړنه وه يوه لوري ته د ژبې د عادي استعمال په مينځ کښې د بدلون يا استحکام د روابطوسره، او دې بلې خوا ته له روان روحي، ټولنيز يا کلتوري پروسو سره، چې کله د ژبې د استعمال په حواله بېلا بېل خلک د يوه بل سره په رابطه کښې وي، اړه لري. دغه ژبې (يا د ژبې مختلف ښکلونه) کله کله په ځيني ويناوالو کښې د يوې يا بلې ځای ونيسي. او په ځانګړې توګه يې په ځيني ډولونو يا د ژبني رويې په حلقو (قلمرو) کښې د ډلو په منځ کښې د ځيني شرايطو لاندې پخوا تشويق او تبصرې راپارولې دي. خو دا په نيزدې کلونو کښې وليدل شو، چې ياده موضوع د ژبني رويې په مسلکي لوستونکو کښې د يوه منظم تحقيقي ساحې په توګه پېژندل شوې ده."

د ژبې اوښتون او ساتنې د علمي ساحې په رغولو او وده کښې يو څو نومونه د يادولو وړ دي. چې د دوی د تحقيقي ليکنو له سوبه څخه يادي موضوع علمي او تحقيقي حيثيت وموندلئ. په دې کښې تر ټولو مهم نوم د امريکن ژبپوهه جوشه فيشمېن (Joshua Fishman) دی، چې پر دې موضوع باندې يې کليدي مقاله په ۱۹۶۴ کښې وليکله. په دې پسې د هينز ګلوز (Heinz Kloss) (د ژبې ساتنه-۱۹۲۷)، د هينرهاګين (Einar Haugen) او يورئيل وانرايچ (Uriel Weinreich-1953) د ژبو پر رابطو، دوه ژبې ويونکې حالتونو او ګډوالي ژبو باندې ليکنې، او په پای کښې د چارلس فرګسن (Charles Ferguson) د ډيګلوسيا-۱۹۵۹ (diglossia) ليکنه د اهميت وړ ليکنې دي، چې د ژبې اوښتون او ساتنې په څېړنو کښې بنيادي ليکنې ګڼل کيږي. پاول ليکي:

The scholar who has, however, done most to elevate the investigation of LM and LS to a genuine and legitimate field of enquiry is undoubtedly Joshua Fishman. In his key text (Fishman 1964), revised and expanded in later versions (e.g., Fishman 1970, 1972), Fishman approached the topic from the perspective of social science, in particular, sociology and social psychology, whose primary interest concerns the social and societal aspects of language. The main focus in such an approach is on

the users and uses of language rather than on the language itself, i.e., the linguistic features of languages. (Pauwels, 2016, p 13)

(ژباړه) " په دې کښې هیڅ شک نشته، چي دا عالم جوشه فیشمېن وو، چي د ژبي اوښتون او ساتني څېړني (LS & LM) یې د تحقیق و مستند او قانوني مقام ته ورسولې. فیشمېن پخپله کلیدي لیکنه (۱۹۶۴)، او بیا په نورو لیکنو (۱۹۷۰، ۱۹۷۲)کښې له نوي سره غور او فکر او وسعت ورکولو کښې هغه و دې موضوع ته د ټولنیز سائنس (social science)، او په ځانګړې توګه باندي د ټولنپوهني او ټولنیز نفسیاتو، په تناظر کښې وکتل، د کومو اساسي متمرکز چي د ژبي له ټولنیز (social) او ټولني (societal) سره تړلي اړخونو څېړل وو. د دې لیدلوري بنیادي کار یوازي د ژبي پرځای (لکه، د ژبي ژبني خاصیتونو) باندي د دې پر ویونکو (users) او د ژبي پر استعمال (uses of language) توجه ورکوي."

د ژبي اوښتون او ساتني په موضوع کښې دغه دوې بنیادي خبري دي، چي د موضوع اساسیت تشکلوي. په دې کښې یوه د ژبي د ویناوالو سره او دویمه د ژبي له کارولو سره تړون لري. په دې اساس باندي یاده موضوع د ټولنیزي ژبپوهني یوه مهمه سکالو ګرځي. جوشه فیشمېن په معاصر تاریخ کښې د ژبي د اوښتون لړ تر لږ پینځه لوی مثالونه په ګوته کوي، چي په دې کښې د لوی شمېر خلګو یوه نوې ژبه یا د ژبي نوی ډول خپل کړئ دی. البته، دغه عمل پر یوه وخت باندي شوئ دی، او که نه، خو دوی په دې کښې هغه ژبه پرېښې ده، چي یو وخت یې وینا باندي کوله. فیشمېن دغه مثالونه داسي بیانوي:

(A) – the vernacularization of European governmental, technical, educational, cultural activity, (B) the Anglification / Hispanization of the populations of North / South America respectively, (c) the adoption of English and French as languages of elitist wider communication throughout much of the world, but particularly in Africa and Asia, (d) The Russification of Soviet-controlled populations, and most recently, (e) The growing displacement of imported languages of wider communication and the parallel vernacularization of governmental, technical, educational, and cultural efforts in many part of Africa and Asia. (Fishman, The Sociology of Language, 1972, p 107)

ژباړه: "(الف) د اروپا د حکومتي، تخنیکي، تعلیمي، کلتوري فعالیت په ځایي ژبه / ژبو باندي اړول، (ب) په ترتیب سره د شمالي او جنوبي امریکې نفوس انګریزي او هسپانوي ژبو ته اړول، (ج) په زیاتره نړۍ کښې د انګلیسي او فرانسیسي ژبو د خواصو د پراخ ابلاغ دپاره خپلول، خو په ځانګړې توګه په افریقه او اسیا کښې، (د) د سوویت تر تسلط/ حصار لاندي اوسېدونکي روسي کول، یا روسي ژبه ته اړول، او زیاتره په اوسنیو وختو کښې، (ړ) د وارد شوو ژبو د وسعي ابلاغ زیاتیدونکی بې ځایه کېدل، او د افریقې او اسیا په زیاتر برخو کښې د حکومتي، تخنیکي، تعلیمي او کلتوري هڅو په برابري سره ځایي ژبه / ژبو ته اړول."

د ژبو تر میان د رابطې په نتیجه کښې پیدا کېدونکي د ژبې اوښتون سره سره ځیني نور داسي ورته ژبني حالتونه هم مینځته راځي، چي په هغو کښې تاریخي ژبې له ورکیدو او مرګ سره مخامخ کیږي. په دې کښې د ژبې خطر، ضایعه (loss) او مرګ ډېر احتمالي حالتونه دي.

## د ژبې اوښتون او د ژبې ضایعه (Language Shift and Language Loss)

د ژبو اوښتون او ضایعه یا مرګ داسي ژبني پېښې دي، چي په تاریخ کښې هر وخت واقع شوې دي. مګرتېولنیزژبپوهان چي په دې معاصر دورکښې د سیاسي او معاشي پلوه د بې وسه او کمزورو ژبو په اړه کوم خطرناک او ویروونکی تصویر وړاندي کوي، هغه واقعي هم د اندیښنې وړ حالت دی. په نړیواله کچه باندي پر ژبو کار کوونکې یوې مستندي تحقیقي ادارې، ایتنولوګ په خپل ۲۸ مه ګڼه کښې د ژبو په اړه د اندیښنې وړ معلومات راپور کړي دي. ایتنولوګ د خپل کلني تحقیقي زیار لاسته راوړني هر کال د نړیوالي مورنۍ ژبې (۲۱ فبروري) په ورځ باندي خپروي. دې ادارې چي په ۲۰۲۵ کښې پر ۲۸ نمبر باندي کومه ګڼه خپره کړې ده، هغې ګڼې په نړۍ کښې د ژوندۍ ژبو شمیر ۷،۱۵۹ یاد کړئ دی. د ایتنولوګ پر ویبپاڼه باندي د نړیوالو ژبو په اړه لیکل شوي دي:

As our contribution to the celebration of International Mother Language Day (Feb 21), we are pleased to announce the release of the 28th edition of Ethnologue…This edition lists a total of 7,159 living languages worldwide – a net decrease of 5 living

language since the previous edition of Ethnologue was published one year ago…Global Language Vitality Count: institutional 485, Stable 3481, endangered 3193, extinct 454. (Ethnologue, 2025)

(ژباړه): د نړيوالي مورنۍ ژبي (فبروري ۲۱) د لمانځني دپاره زموږ پيرزوينه دا ده، چي موږ په دې خوښ يو د ايتنولوګ ۲۸ مي ګڼې د چاپ کيدو اعلان وکړو... دغه ګڼه په ټوله نړۍ کښي د ژوندۍ ژبو شمير ۷،۱۵۹ يادوي – چي په دې کښي د تير کال (۲۰۲۴) کښي چاپ شوې د ايتنولوګ د ۲۷ ګڼي په نسبت د پينځه (۵) ژوندۍ ژبو واضح کمښت راغلئ دی... په دې ژبو کښي د نړيوالو ژبو ژوندون د شمير لاندي (څلور ډوله ژبني حالتونه بيان شوي دي) ادارتي (ملاتړ) لرونکي ژبي ۴۸۵، پايښت / پائيداره ژبي ۳۴۸۱، له خطر سره مخامخ ژبي ۳۱۹۳، پوپنا شوې ژبي ۴۵۴.

ژبي څله د اوښتون، ضايعې او مرګ له پېښو سره مخامخ کيږي؟ د دې تر شا کوم وجوهات متحرک کردار ادا کوي؟ دا هغه پوښتني دي، چي ټولنيز ژبپوهانو په مختلفو طريقو باندي جواب کړې دي. په دې اړه يو نوموړی ټولنيز ژبپوهه ډيويډ کرسټل (David Crystal) د دې په اړه داسي نظر وړاندي کوي، او وايي:

If you are the last speaker of a language, your language – viewed as a tool of communication – is already dead. For a language is really alive only as long as there is someone to speak it to. (Crystal, 2003, p 2)

" (ژباړه) يوه ژبه هغه وخت مړه شي، کله چي دغه ژبه يو څوک هم زياتي نوره نه وايي...که چيري ته د يوې ژبي يوازينی پاته ويونکی يې، نوستا ژبه د ابلاغ د وسيلې په توګه، مخکښي لا مړه شوې ده... "

د ژبو ژوند او مرګ د انسانانو سره تړلئ دی. کله چي انسانان خپله اولنۍ ژبه د ابلاغ د وسيلې په توګه نوره نه استعمالوي، نو هغه ژبه د ژونديو ژبو له کتار څخه ووځي. ژبي څله مري، يا د ژبو په وئيلوکښي بدلون څله راځي: دا داسي پوښتني دي، چي د ژبي له اوښتون او ضايعې سره تعلق لري. ژبه يو ټولنيزه محصول / پيداوار دی، څکه د دې بقا له ټولني سره تړاو لري. کله

چي یوه ژبه و کوشنیانو ته بې له څه خنډه په ښه توګه باندي منتقل کیږي، نو دا د یوې ژبي د ژوندی پاته کېدو قوي نخښه ګڼل کیږي. مګرکله چي د انتقال په دې عمل کښي خلل پیدا شي، او ماشومانو ته په ښه انداز کښي ژبه منتقل نشي یا نه انتقالیږي، نو دا ژبه به په پای کښي مري. د یونیسکو (۲۰۰۳) د پوهانو یوې مشخصي کمیټۍ د پېرس په غونډه کښي د بدحاله یا له خطر سره مخامخ ژبو په اړه دا نګیرنه وړاندي کړې ده، چي:

Even languages with many thousands of speakers are no longer being acquired by children; at least 50% of the world's more than six thousand languages are losing speakers. We estimate that, in most world regions, about 90% of the languages may be replaced by dominant languages by the end of the 21st century. (UNESCO, 2003, p 2)

(ژباړه) "... تر دا پوري هغه ژبي هم د ماشومانو لخوا نوري زیاته نه کسبول کیږي، چي په زرهاوو ویونکي لري، او لږ تر لږه ۵۰ سلنه د نړۍ تر شپږ زره زیاته ژبي ویونکي له لاسه ورکوي. موږ اټکل لګوو، چي د نړۍ په زیاترو سیمو کښي به تقریبا ۹۰ سلنه ژبي امکان لري چي د یوشتمي پېړۍ تر ختمیدو پوري په واکمنو یا بااثرو ژبو باندي بدلي(replaced) شي."

ټولنیزژبپوهان پر دې خبره باندي هم ورته فکر سره لري، چي ژبي په خپل مینځ کښي له یوې بلي څخه اغېزمني کیږي، یعني د څنګلورو کلتورونو یا ژبو تر میان د پورونو دوه اړخیزه عمل یوه عمومي خبره ده. فوزیه جنجووا لیکي (ژباړه):

Sometimes speakers of a language deliberately lose their language for another one. If the loss is sudden it is a shift and if gradual it is change, both leading towards death of a language…The term 'Language Shift' meant a process whereby a specific linguistic group transitions as a result of an attitude of the speakers under the influence of a certain catalyst, internal or external to meet the economic and social requirements for adjustment in the real world moving towards progressivism and the term 'Language loss' meant a phenomenon of disappearance of a particular language which appears as a result of deliberate or forcible suppression of an indigenous language in cultural competition with a dominant language. (Janjua, 2005, pp 33-34)

(ژباړه) کله کله د یوې ژبې ویناوال په اراده سره خپله ژبه د بلې ژبې د پاره قربان کړي. که چیرې په دې کښې ضایعه (loss) ناڅاپي وي، نو دا اوښتون (shift) دی، او که چیرې تدریجي (gradual)وي، نو دا بدلون دی. البته، په دواړه حالتونو کښې کیسه د ژبې پر مرګ باندې تمامیږي... د ژبې اوښتون اصطلاح مطلب یو داسې عمل، چې په دې کښې یوه ځانګړې ژبنۍ ډله د ویناوالو د رویې له سوبه و بلې ژبې ته د ځینې معلومو داخلي او بهرني اثراتو لاندې په دې مقصد واوړي، چې په ورځني ژوند کښې د پرمختګ دپاره معاشي او ټولنیزې اړتیاوې تر لاسه کړي. او د ژبې ضایعه (language loss) معنا یوه داسې پېښه چې په دې کښې یوه مخصوصه ژبه ورکه شي، کوم چې د یوې واکمنې یا بااثره ژبې سره په کلتوري سیالۍ کښې د ځایي ژبې د ارادتا یا جبري وهلو په نتیجه کښې پېښیږي.

خو زیاتره پوهان په دې متفق دي چې د ژبې ضایعه (language loss) پر درې ډوله باندې پېښیږي: یو دا وي، چې د یوې ژبې ټول نفوس د قدرتي حادثو، وباو او جنګونو په نتیجه کښې مړه شي، نو ژبه ورسره مړه شي. د ژبې د ضایعې دویم قسم د ژبې د اوسیدونکو د ختمکېدو سره اړه نه لري، بلکې په دې کښې د ژبې وینا وال بله ژبه وئیل پیل کړي، او خپله اولنۍ ژبه د ځینې لاملونو له سوبه وئیل پرېږدي. د ژبې اوښتون پخپله دوه ډولونه لري، جبري اوښتون (forced shift) او رضاکارانه اوښتون (volunteer shift). او د ژبې د ضایعې دریم قسم رضاکارانه ضایعه ده، چې په دې کښې د یوې ژبې ویونکي خپله ژبه وئیل پخپله خوښه باندې پرېږدي. خو د رضاکارانه ضایعې سره ډېر اختلاف لیدل کیږي، ځکه چې له خپلې ژبې څخه یو څوک هم پخپله خوښه باندې لاس نه اخلي. د دې عمل تر شا یو شمیر سیاسي او معاشي عوامل برخه لري.

هم دا رنګه، په یوه ټولنه کښې د ژبني پدیدې (لکه، د ژبې خطر، اوښتو او مرګ، وژنه) تل د سیاسي، معاشي، ټولنیز، کلتوري او کله کله د عسکري علتونو د ردعمل په نتیجه کښې واقع کیږي. د ځینو نقادانو په وینا، دغه شعوري فیصلې، چې انسانان پکښې خپله ژبه وئیل پرېږدي، تل د بهرني عواملو تر اثر لاندې اغیزمنې کیږي. او د یوې ژبې ویونکي په دې قانع کوي یا یې سځوي، چې هغه د سیاسي، معاشي او ټولنیزو اړتیاو د پوره کولو لپاره واکمنه/ له

سیاسي او معاشي لحاظه قوي او موثره ژبه وئیل پیل کړي. هرکله چي یوه ژبه خپلې د وینا حلقې (domains) له لاسه ورکوي، نو بله ژبه راځي او هغه خلا پوره کوي. هم دا رنګه، چي یوه ژبه خپلې د ډېرغا عادي ټولي حلقې و بلي ژبي ته پرېږدي، نو د ژبي اوښتون او مرګ رامینځته شي.

پایله: د ژبي اوښتون د ټولنیز- ژبپوهني یوه بنیادي موضوع ده، چي په دوو یا ګڼو ژبو ویونکو ټولنو کښي انکشاف کوي. د ژبي اوښتون د یوه داسي ژبني حالت استازیتوب کوي، چي په دې کښي د یو شمیر معلومو علتونو له سوبه د یوې بې وسه او له سیاسي او معاشي واک او اختیاره بې برخي شوي ژبي ویونکي په ټولنه کښي د وینا حلقې و بلي بااثره ژبي ته پرېږدي. په دې اساس باندي د ژبي خطر (endangerment) او ژوندون (vitality) دپاره هم له بنیادي حالتونو څخه یو حالت دا په ګوته شوئ دی، چي کومه ژبه د وینا په ډېرو حلقو کښي وئیل کیږي، هغه خوندي او مضبوطه ژبه ده. او د دې برعکس، کومه ژبه چي په کمو حلقو کښي وئیله کیږي، دا حالت د هغې ژبي د خطر نخښه ګڼل کیږي. دغه پروسه په کورونو کښي د ژبي د انتقال عمل هم تر اغیز لاندي راوړي، او د یوه نسل څخه و بل نسل ته د ژبي د ترسیل په پروسه کښي خلل پیدا کوي. چي په نتیجه کښي یې یوه ژبه په درې یا څلور نسله کښي له ورکیدو سره مخامخ شي. د ژبي اوښتون تر شا ډېر عوامل کردار ادا کوي، خو سیاسي او معاشي دوه داسي علتونه دي، چي په ټولو کښي مهم علتونه ګڼل کیږي.

# References:

Crystal, D. (2003). *Language Death.* New York: Cambridge University Press: (p 2).

Ethnologue. (2025). *Ethnologue:*. Retrieved from Ethnologue.com: Gary Simons | February 21, 2025: Accessed on, 3-7-2025,: https://www.ethnologue.com/ethnoblog/welcome-28th-edition/

Fishman, J. A. (1972). *The Sociology of Language.* United States of America: Newbury House Publishers: (p 107).

Janjua, F. (2005). *Political and Sociocultural Factors In Language Loss: A Study of Language Shift in Northern Pakistan (Ph.d Thesis-pdf).* Islamabad: National University of Modern Language: (pp 33-34).

Joan Swann, Ana Ddumert, Theresa Lillis and Rajend Mesthrie. (2004). *A Dictionary of Sociolinguistics.* Edinburgh: Edinburgh University Press: (pp 174-175).

Pauwels, A. (2016). *Language Maintenance and Language Shift.* United Kingdom: Cambridge University Press: (p 18) (p, 9), (p, 9), (p 13).

Tasunoda, T. (2005). *Language Endangerement and Language Revitalization: An Introduction.* Berlin, New York: Mouton de Gruyter: (p 73).

UNESCO. (2003). *Language Vitality and Endangerment.* UNESCO Document: (p 2), (p 7), (pp 13-14),: UNESCO Ad Hoc Expert Group on Endangered Languages.

Whaley, L. A. (2006). *Saving Languages: An introduction to language revitalization.* New York: Cambridge University Press: (p 13 ).